**اردوغانه! په هوا کې ماڼۍ نه جوړېږي**



**خبر:**

اردوغان يهودي بنسټ پر سختو الفاظو وغنده. د اقتصادي اړيکو پرېکولو ګوت څنډنه يې وکړه او د اسلامي همکاريو له سازمان څخه يې د يو موټي کېدو او له هغوی سره پر اړيکو يې د بيا غورکولو غوښتنه وکړه.

**تبصره:**

ايا موږ دا مخکې نه دي اورېدلي؟ هو، دا لمړی ځل نه دی، چې اردوغان خپل ځان د عثماني خلفاوو په څېر د مسلمانانو د چارو ساتونکی ګڼي. دی د احساساتو له ډکې وينا او د غندنې د ډکو الفاظو پر مټ غواړي د ځينو مسلمانانو پام ځان ته واړوي. خو زه ده ته د ريښتيني عثماني خليفه وينا ور يادوم، چې ويل يې: « **په هوا کې ماڼۍ نه جوړېږي**». يعنې له عملي ګام اخستلو پرته تش الفاظ هيڅ ارزښت او ګټه نه لري.

لکه څرنګه چې يوه امام ويلي و، چې زه له اردوغان سره مينه لرم او دی خليفه ګڼم. خو زه حيران شوم، ما ويل زه د ناخوالو پر وړاندې غبرګون ښيم، دی(اردوغان) هم غبرګون ښيي، زه هيڅ واک نه لرم چې خپلو خبرو ته د عمل جامه ور واغوندم؛ خو اردوغان له يو ستر ځواک سره بيا هم هيڅ عملي ګام نه اخلي.

د خواشينۍ ځای دا دی، چې هغه د يهودي بنسټ له لوري د لاريونکوونکو او په هغه کې د ماشومانو وينې تويېدل غندي او له مسلمانو خاورو څخه د يو موټي کېدو او له يهودي بنسټ سره د سياسي او اقتصادي اړيکو د بياځلې غور کولو غوښتنه کوي.

په پارلمان کې، د عدالت او پراختيا ګوند د اپوزيسيون هغه خوځښت ردوي، چې له يهودي بنسټ سره د ټولو سياسي، اقتصادي او نظامي هوکړو د پای ته رسېدو او د اقتصادي بنديزونو د لګولو په موخه يې ترسره کوي.

سره له دې د اردوغان د واکمنۍ په پېر کې د ترکيې او اسراييلو تر منځ دوه اړخيزې اقتصادي اړيکې لا تر پخوا هم نورې غښتلې شوي. د سوداګرۍ په برخه کې د دوی تر منځ دغه اقتصادي اړيکې په چټکۍ سره د تېرو ۱۵ کلونو په ترڅ کې زياتې شوي او دغه راز د دفاعي صنعت په برخه کې د دوی دوه اړخيزې ګټې له پامه نه شي غورځېدلی. ترکيه د يهودي ښکېلاکګر ښپږم سوداګريز ملګری دی، چې په ۲۰۱۴م کې يې د راکړې ورکړې کچه ۵.۵ ميليارډو ډالرو ته رسېده.

که څه هم د اسراييلو د ځارګرې ادارې وزير، اسراييل کاتز د اردوغان هغه څرګندونې رد کړې، چې اسراييل يې جنګي جنايتکار ګڼلی و او ويلي يې و، چې د ملګري په جامه کې دښمني کوي. ده زياته کړه چې اردوغان پر موږ بريدونه کوي او موږ يې ځواب ورکوو، خو دی د ترکيې ۲۵ سلنه صادراتو مخه چې د خليج له لارې د هايفا (Haifa's port ) له بندر څخه تېرېږي نه شي نيولی.

اردغان خپل ځان په نړيوال ډګر کې د مسلمانانو رهبر ګڼي، پر همدې بنسټ د دې اړتيا ويني چې په دوام لرونکي ډول پر اسراييلو بريد وکړي، خو واقعت داسې نه دی چې دی يې ګوري. ترکي هوايي شرکت، يو ستر نړيوال شر کت دی چې په اسراييلو کې د دواړو هيوادونو ترمنځ تجارتي اړيکي پر مخ بيايي او دغه شرکت د مرمرا (*Marmara*) له پېښې سره سمه پراختيا وکړه.

اوس پوښتنه دا ده، چې د امت پر وړاندې د روانو جنايتونو په اړه ډېر ګناهګار څوک دي؟ هغه کس چې بل تېر باسې او يا هغه کس چې خپله تېروتنه کوي. پر همدې بنسټ له واقعتونو او حالتونو څخه سطحي ديد د امت پاملرنه په پرله پسې توګه له بنسټيزې مسلې او واقعي حللارې اړوي.

ترڅو د يوه واحد امت په څېر له اسلامي معيارونو سره سم چې اسلام راته ټاکلي، خپل فکري لوری بدل نه کړو، نو د ښکېلاکګر کافر، د هغوی د ملګرو او مزدورانو د ترحم په جال کې به راګېر يو.

هغه څوک چې د اسلام او مسلمانانو د دښمنې امريکا پلانونه پلي کوي، په ښکاره له سيکولريزم څخه ساتنه کوي او په ډاګه د اسلامي دولت له بيا ځلي جوړېدو سره مخالفت کوي، د شريعت پر ځای ديموکراسۍ ته وده ورکوي او که موږ يې په اړه فکر وکړو چې اسلام به بيا واکمن کړي؛ نو بيا موږ فکري ستونزه لرو او د ژوند معيارونه مو ستونزمن دي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**ليکوال: اوکې پالا په نيدرلند کې د مطبوعاتي دفتر غړی**

**ژباړن: خبيب**